# بانک

د افغانستان بانک میاشتنۍ

یوولسم کال، یوسلونهه ویشتمه ګڼه د ۱۳۹۶ کال د کب میاشت


د افغانستان بانک

# پیشبینی انفلاسیون:

## تحقیقی از جانب د افغانستان بانک



# افغانی، زمونږ د ویاړ،
# اقتدار او ملي هویت نښه ده!



## بانک

صاحب امتیاز: د افغانستان بانک

هیئت تحریر: ایمل هاشور، داکتر جهانتاب ولیزار و اقبال صافی

سردبیر: شفیق الله بارز

مدیر مسئول: یما عفیف

گزارشگران: حمیدالله فیضی و عبدالحفیظ شاهین

دیزاین: خالد احمد فیضی

فوتوژورنالیست: زیرک ملیا

مترجمان: عین الله عیان و مسعود ودان

مسئول چاپ و توزیع: تمیم احمد صمیمی

آدرس: آمریت اسناد و ارتباط، د افغانستان بانک

تیلفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

پُست الکترونیکی: magazine@dab.gov.af

صفحهٔ الکترونیکی: www.dab.gov.af

شمارهٔ ثبت: ۶۵۸

www.facebook.com/AFGCentralbank

twitter.com/AFGCentralbank

Da Afghanistan Bank-Youtube

Da Afghanistan Bank-Google+


## د دې ګڼې مطالب


تاپی، گامی برای بهبود آیندهٔ اقتصادی افغانستان

صندوق بین المللی پول از عملکرد اقتصادی افغانستان...

د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د ملګرو ملتونو د امنیت شورا...

انفلاسیون و متغیرهای اقتصادی ( تحقیقی از جانب د افغانستان بانک)

د افغانستان بانک د کارکوونکو د وړتیا لوړونې په برخه کې...

د افغانستان بانک با روسای بانکهای تجارتی تدویر جلسه نمود

د افغانستان بانک، د صرافانو او پولي خدمتونو دوو شرکتونو ته

عملیات بازار آزاد و وضعیت نقدینگی طی شش ماه اول سال ...

ټاپې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ غوره لار

د لاجورد دهلیز د سیمه ایز او نړیوال جیوپولیټیک په رڼا کې

د افغانستان بانک عملیاتی کړنو ته ځغلنده کتنه

خط آهن پنج جانبه میان افغانستان و کشورهای همسایه

مزایای انرژی تجدید پذیر در افغانستان

مختصری به اقتصاد جهان و افغانستان

حکومت د اقتصادي وضعیت ښه کېدو ته جدي هوډ لري

بازار بورس و مشهور ترین بورس های جهان

استفاده از تولیدات داخلی، سبب بهبود اقتصاد کشور می شود



**یاد آوری:** به غیر از سرمقاله که دیدگاه رسمی "مجله بانک" است، مسئولیت مضامین و مقالات دیگر به نویسنده‌گان آن بر می گردد.

استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.



# تاپی، گامی برای بهبود آیندۀ اقتصادی افغانستان

نفت و گاز به علت نقش اساسی که در سکتور صنعت دارند، در جهان امروز منحیث دو عنصر اساسی و محرکه صنعت در بین کشورها محسوب شده و نقش مهمی را در ایجاد همکاری های منطقه ای و همگرائی اقتصادی ایفاء می کنند.

عبور گاز ترکمنستان از خاک افغانستان به پاکستان و هند، نه تنها مزیت اقتصادی داشته، بلکه بر روابط سیاسی کشورهای مشترک این پروژه نیز اثر نموده که به تبع آن امینت منطقه نیز بهبود خواهد یافت.

افغانستان در حال حاضر بنابر عدم داشتن عایدات مؤثر، بیشتر مصارف خود را از کمک های جامعه جهانی تأمین می نماید و در کنار آن تعدادی از مردم نسبت نبود کار و زمینه های شغلی در بیکاری و فقر بسر می برند. پروژه تاپی و سایر پروژه های عمرانی از این نوع ضمن افزایش در عواید کشور، زمینه های شغلی را نیز به همراه دارد که تطبیق آن نویدی را برای بهبود اقتصاد خانواده ها و در کُل اقتصاد کشور در پی دارد.

با عملی شدن پروژۀ تاپی، کشور ما از گاز این لوله در دهۀ اول به اندازۀ پنجصد میلیون متر مکعب استفاده خواهد کرد و زمینه های شغلی برای هزاران کارگر که در جاده ها مصروف جستجوی کار می باشند، فراهم خواهد شد. همچنان افغانستان از این خط لوله، سالانه ۴۰۰ میلیون دالر حق العبور بدست خواهد آورد که از آن میتوان در سیاست های اقتصادی کلان و بهبود اقتصاد کشور استفاده مؤثر نمود.▣

# صندوق بین المللی پول از عملکرد اقتصادی افغانستان ستایش نمود



حوت ۱۳۹۶

محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک و هیئت همراه شان طی سفر رسمی به شهر باکوی جمهوری آذربایجان با هیئت صندوق بین المللی پول ملاقات نموده و روی موضوعات اقتصادی، بخصوص تکمیل بررسی مرحله سوم برنامهٔ مشترک اقتصادی "تسهیل تمدید کریدت" و اهداف تعیین شده مرحلهٔ چهارم این برنامه صحبت نمودند.


دراین دیدار برعلاوه هیئت د افغانستان بانک هیئت وزارت محترم مالیه تحت ریاست محترم اکلیل حکیمی وزیر مالیه، از طرف صندوق بین المللی پول آقای کریستوف دینوالد مسئول امور افغانستان در صندوق بین المللی پول و نماینده‌گان بانک جهانی اشتراک داشتند.

در این مذاکرات وضعیت تحولات اقتصادی خصوصاً متغیرهای اقتصاد کلان مانند رشد حقیقی اقتصاد، نرخ تورم، شاخص های عمده پولی، بیلانس تادیات و ذخایر اسعاری افغانستان مورد بررسی قرار گرفت.

هیئت صندوق بین المللی پول دستاوردهای افغانستان در زمینه حفظ ثبات شاخص های عمده اقتصادی مانند مهار تورم، جمع آوری عواید، افزایش ذخایر اسعاری و هم چنین پیشرفت روند اصلاحات ساختاری را مورد ستایش قرار داد.

در پایان مذاکرات روسای هیئت های اشتراک کننده با ابراز خرسندی از دستاوردهای مذاکرات، پیشرفت برنامه اقتصادی مشترک افغانستان و صندوق بین المللی پول و توافق روی اهداف جدید برای سال مالی ۱۳۹۷را گام بسیار مهم در راستای ثبات و انکشاف اقتصادی افغانستان ارزیابی کردند.▣

# د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د تعزیراتو کمیټې له غړو سره ناسته وکړه

کابل، د ۱۳۹۶ کال د کب ۱۶ مه د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي غړو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د تعزیراتو کمیټې غړو سره د مالي مؤسساتو اړوند مسائیلو بحث وکړ.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر د غونډې په ترخ کې وویل د افغانستان بانک د مالي استخباراتو ادارې د مشکوکو مالي معاملو د راپور ورکونې د کیفیت په ښه والي ټینګار کوي چې اوسمهال د تېرو کلونو په پرتله د مشکوکو مالي معاملو د راپور ورکونې بهیر ښه شوی دی.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه، د افغانستان بانک هڅه کوي چې د افغانستان مالي سیستم له ستونزو او ننګونو خلاص کړي او د پیاوړي مالي سیستم د پلي کیدو لپاره لارې چارې هوارې شي. دغه راز د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د تعزیراتو کمېټې غړو هم ژمنه وکړه چې د افغانستان بانک سره د هر ډول مالي معاملاتو په اړه تخنیکي اړوندو موضوعاتو کې همکارۍ ته چمتو دي.

د افغانستان بانک د مالي معاملو او راپورونو د څېړنې د ادارې لوی آمر نثار احمد یوسفزي هم وویل چې هڅه کوي چې په مالي معاملاتو کې د هغو اشخاصو د ناسمو ګټو اخیستنو څخه مخینوی وکړي چې غواړي له نا مشروع لارې توري پیسې ترلاسه کړي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د مالي استخباراتو اداره، د افغانستان د مالي نظام په لا ټینګښت، د نړۍ له مالي نظامونو سره د راکړې او ورکړې لپاره د هېواد د مالي نظام په پیاوړتیا او د افغانستان په راتلونکي اقتصادي ودې، پانګونې او اقتصادي غوړېدا لپاره هلې ځلې کوي.▣

# انفلاسیون و متغیرهای اقتصادی

## ( تحقیقی از جانب د افغانستان بانک)



کابل،۲ حوت ۱۳۹۶

آمریت سیاست پولی د افغانستان بانک در رابطه به پیشبینی انفلاسیون که در کنار سایر وظایف یکی از مسئولیت های اساسی د افغانستان بانک شمرده میشود و عرض طرح و تطبیق سیاست های پولی موثر می باشد، تحقیقی را انجام داده است و آنرا با هیئت رهبری د افغانستان بانک، در میان گذاشت.

محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک ضمن قدردانی از بخش تحقیق آمریت عمومی سیاست پولی د افغانستان بانک گفت که جمعآوری اعداد و ارقام دقیق و شریک نمودن آن با مردم و جهان، نشان دهندۀ توانایی و ظرفیت در سکتور اقتصادی افغانستان است.

محترم خلیل صدیق افزود که د افغانستان بانک باید در بخش های مختلف تحقیق خود را بیشتر نماید، تا در کنار ادارۀ مرکزی احصائیه، د افغانستان بانک نیز منتشر کننده آمار و ارقام دقیق باشد.

آمر عمومی سیاست پولی د افغانستان بانک در این نشست تصریح نمود که طرح، اتخاذ و اجرای سیاست پولی و سیاست ارزی کشور در راستای تأمین ثبات قیمت های داخلی و ثبات ارزش پول ملی، از وظایف این آمریت میباشد.

باید گفت که این تحقیق نشان میدهد که انفلاسیون با سایر متغیرهای اقتصادی چگونه رابطه داشته و تأثیر سایر متغیر ها بالای انفلاسیون کدام ها است، این تحقیق میتواند در تحلیل های اقتصادی نهایت مؤثر واقع گردد.

قابل یادآوریست که در این جلسه برعلاوه محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک، محترم واحد الله نوشیر معاون اول، محترم محمد قسیم رحیمی معاون دوم و شماری از آمرین و کارمندان آمریت عمومی سیاست پولی نیز اشتراک نموده بودند.▣

# د افغانستان بانک د کارکوونکو د وړتیا لوړونې په برخه کې د نړیوال بانک ۴ میلیونه ډالره مرستې ترلاسه کړې




کابل، ۱۳۹۶کال، د کب په لومړۍ د افغانستان بانک لوی رئیس ښاغلي خلیل صدیق د خبري غونډې په ترڅ کې په بېلابېلو برخو کې د مرستو ترڅنګ د نړیوال بانک له ۴ میلیونه ډالرو وړتیا لوړونې مرستې څخه مننه وکړه او زیاته کړه یې چې د افغانستان بانک ژمن دی چې له دې مرستو څخه د افغانستان بانک د کارکوونکو د وړتیا لوړولو، په لوړو زده کړو سمبالتیا او د یوه وړ او څواکمن مدیریت رامنځته کولو په موخه کره، دقیقه او سمه ګټه واخلي.

ښاغلي خلیل صدیق د پوهنتونونو د زده کړو په کیفیت په ټینګار سره وویل چې د نړیوال بانک له دې مرستو څخه ۶۸۱ تنه د افغانستان بانک کارکوونکي د هېواد دننه په ماسترۍ او لیسانس پروګرامونو کې په کابل او ولایتونو کې تر ښوونې او روزنې لاندې نیول کیږي او د دې ترڅنګ به ځینې کسان آنلاین پروګرامونو او لنډ مهاله کورسونو له لارې په ځانګړو مالي برخو کې وروزل شي.

د غونډې په لړ کې د نړیوال بانک استازي هم ژمنه وکړه چې د افغانستان بانک د کارکوونکو د وړتیاوو لوړولو لپاره هر ډول همکارۍ ته چمتوالی لري او د افغانستان په مالي نظام کې په پرمختګونو باور لري. د یادونې وړ ده چې د دې پروګرام د پلي کیدو لپاره د افغانستان بانک له کابل، باختر، افغانستان امریکن او کاتب پوهنتونونو سره تړونونه لاسلیک کړي دي.

د افغانستان بانک مشرتابه پلاوی هڅه کوي چې د یوه ټینګ، عصري او سالم مالي سیستم جوړول، د سیالیت تأمینول او د اقتصادي ودې، اغیزناکه مالي سیستم رامنځته کولو او د مالي نظام پیاوړتیا لپاره خپلې هڅې جاري وساتي.

په همدې ترڅ کې د سلواغې ۳۰ مه د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي په لوړو زده کړو د کارکوونکو د سمبالتیا په موخه د افغانستان امریکایي پوهنتون له مشر ډاکټر کېنېټ هالند سره تړون لاسلیک کړ.

د دې تړون د لاسلیک پرمهال د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي وویل چې د دې تړون د لاسلیک موخه د افغانستان بانک د کارکوونکو د وړتیا لوړول، په لوړو زده کړو سمبالتیا او د یوه وړ او څواکمن مدیریت رامنځته کول دي.

ښاغلي رحیمي د پوهنتونونو د زده کړو په کیفیت په ټینګار سره زیاته کړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې یو سالم، عصري او پیاوړي مالي سیستم رامنځته کړي او په همدې موخه یې له ټولو زده کړه ایزو علمي او اکاډمیکو ملي او نړیوالو سازمانونو څخه غوښتنه وکړه، څو د مالي نظام د پیاوړتیا لپاره د افغانستان بانک کارکوونکو ته د لوړو زده کړو زمینې برابرې کړي.

د افغانستان د امریکایي پوهنتون مشر ښاغلي ډاکټر کېنېټ هالند هم د دې لاسلیک غونډې پرمهال وویل چې د افغانستان بانک د کارکوونکو د ښوونې او روزنې لپاره هر ډول چمتوالی لري او هیله یې وکړه چې له افغانستان بانک سره د ډیر وخت لپاره پاتې شي.

د افغانستان بانک د کارکوونکو د وړتیاوو د لوړوالي پروګرام د افغانستان بانک د بشري سرچینو د آمریت په نوښت جوړ شوی چې د نړیوال بانک له خوا یې مالي مرسته کیږي. له دې مخکې د افغانستان بانک له کابل، باختر او کاتب پوهنتونونو سره تړونونه لاسلیک کړي وو چې په دې لړ کې اوس له امریکایي پوهنتون سره هم تړون لاسلیک شو.

دیادونې وړ ده چې د افغانستان بانک له خوا د کارکوونکو د ظرفیتونو د لوړولو پروګرامونه له پخوا راهیسې دوام لري، چې ډیریو کارکوونکو د لوړو زده کړو د ترلاسه کولو لپاره ترې ګټه پورته کړې ده.▣

# د افغانستان بانک با روسای بانکهای تجارتی تدویر جلسه نمود



بتاریخ اول حوت ۱۳۹۶، هیئت رهبری د افغانستان بانک با روسای بانک های تجارتی پیرامون معاملات بانکی و مشکلات عرضه خدمات بانکی، تدویر جلسه نمود.

محترم خلیل صدیق رئیس کُل د افغانستان بانک پیرامون مشکلات بانکها و مصونیت داد و ستد صحبت نموده گفت که باید تمام بانک ها مطابق به قوانین بانکی و معیارهای پذیرفته شده جهانی فعالیت نموده و برای کارمندان خود جهت رشد هرچه بیشتر نظام بانکی، رهنمایی های لازم را ارائه نمایند.

محترم صدیق ضمن استماع مشکلات بانک های خصوصی و دولتی، یادآور شد که بانک های تجارتی باید آماده‌گی های لازم را برای نشست گروه اقدامات مالی (FATF) که در جریان سال مالی بتاریخ ۲۳-۲۴ اپریل تدویر میگردد، داشته باشند.

د افغانستان بانک با تاکید به موقف خود در قبال بانک های تجارتی که همانا تقویت و ارائه رهنمودهای لازم در جهت رشد نظام بانکی میباشد، از بانک های تجارتی خواست تا تمام معاملات خود را در روشنایی قوانین بانکی، بگونه شفاف و در جهت کسب اعتماد جامعه جهانی، انجام دهند.▣

# د افغانستان بانک، د صرافانو او پولي خدمتونو دوو شرکتونو ته د فعالیت جوازونه ورکړل



د ۱۳۹۶ کال، د کب په ۱۹ مه –د افغانستان بانک د یوې غونډې په ترڅ کې د صرافانو او پولي خدمتونو البشیر او اکسچنجر زون شرکتونو ته د فعالیت جوازونه ورکړل. د غونډې په ترڅ کې د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي واحدالله نوشیر وویل چې د صرافانو او پولي خدمتونو د شرکتونو د جوړیدا موخه د پولي خدمتونو معیاري کیدل، له تورو معاملاتو څخه مخنیوي، د مالي او بانکي قوانینو پلي کیدل او په راتلونکي چاپیریال کې د مالي معاملاتو ترسره کیدل دي او له نورو صرافانو یې هم وغوښتل چې د مالي شرکتونو د جواز اخیستلو لپاره مټې راونغاړي.

ښاغلي نوشیر زیاته کړه چې د افغانستان بانک هڅه کوي چې ټولې مالي معاملې باید له خوندیتوب څخه برخمنې وي او هیڅ ډول معامله هم د تورو پیسو د سپینولو لامل ونه ګرځي او صرافان او پولي خدمتونو وړاندې کوونکي په قانوني چاپیریال کې مالي معاملې ترسره کړي، څو د مالي او پولي نظام د پیاوړتیا لپاره لارې چارې برابرې شي.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال همدا ډول څرګنده کړه چې د صرافانو د کړنو د تنظیم په مقرره کې صرافانو ته جواز ورکول، د مالي شرکتونو جوړول، د صرافانو ثبتول او د صرافانو له خوا د مالي معاملاتو په اړه راپور ورکول رانغاړي چې د صرافانو د کړنو ټول محدودیتونه او فعالیتونه یې بشپړ توضیح کړي چې د همدې مقررې پربنسټ د صرافانو د پولي خدمتونو شرکتونه توانیدلي چې معیارونه پوره او جوازونه ترلاسه کړي.

د غونډې په ترڅ کې د صرافانو د پولي خدمتونو شرکتونو استازو هم ژمنه وکړه چې د افغانستان بانک د قوانینو او مقررو په رڼا کې به خپلې کړنې پرمخ یوسي او خپل فعالیتونه به د هیواد ګوټ ګوټ ته وغځوي.

په دې پروګرام کې د افغانستان بانک د دوو مرستیالانو ښاغلي واحدالله نوشیر او محمد قسیم رحیمي سربېره د افغانستان بانک د بېلا بېلو شعباتو آمرینو او مرستیالانو، د صرافانو او پولي خدمتونو د شرکتونو استازو او همدا راز ګڼ شمیر صرافانو ګډون کړی وو.▣

حمیدالله فیضي

# عملیات بازار آزاد و وضعیت نقدینگی طی شش ماه اول سال ۲۰۱۷

د افغانستان بانک بمنظور کنترول سیالیت و عرضهٔ پول در اقتصاد کشور تلاش میکند که از طریق لیلام دالر امریکایی سه بار در هفته و لیلام هفته وار اوراق سرمایوی منحیث ابزاری که جهت تطبیق سیاست پولی بکار میروند، رشد پایهٔ پولی را طوری مدیریت کند که به سقف تعیین شده نزدیک باشد.

### لیلام ارز

طی شش ماه نخست سال ۲۰۱۷ د افغانستان بانک بمنظور مهار سیالیت بیش از حد و جلوگیری از نوسانات حاد نرخ مبادلهٔ افغانی در برابر اسعار مخصوصاً دالر امریکایی، لیلام اسعار را مستمراً حفظ نموده است.

طی شش ماه نخست سال ۲۰۱۷، د افغانستان بانک به طور مجموعی ۸۷۹.۷۴ میلیون دالر امریکایی را لیلام نموده، در حالیکه مجموع تقاضا در این دوره ۱،۲۲۲.۶۴ میلیون دالر امریکایی بوده است. بطور اوسط، ۴۵ تن از داوطلبان در هر پروسهٔ لیلام اشتراک نموده که از آنجمله ۳۲ تن آن برنده اعلان شده اند. در هر لیلام بطور اوسط مبلغ ۱۲ میلیون دالر امریکایی به فروش رسیده است. اوسط پائین ترین و بلندترین قیمت کسر شدهٔ هر لیلام به ترتیب ۶۷.۳، ۶۷.۵۱ و ۶۷.۴۸ افغانی بوده است. گفتنی است که در عین زمان سال ۲۰۱۶ این ارقام، بلندتر گزارش شده است. مجموع مبلغ اعطا شده، ۹۴۳.۴۴ میلیون دالر امریکایی گزارش شده، در حالیکه مجموع تقاضا ۱.۳۱۱ میلیارد دالر امریکایی میباشد. بطور اوسط، به تعداد ۴۸ داوطلب در پروسهٔ لیلام اشتراک نموده که از آنجمله به ۳۲ تن آن طور اوسط مبلغ ۱۳ میلیون دالر امریکایی در هر لیلام به فروش رسیده است.

### لیلام اوراق سرمایوی

اوراق سرمایوی عبارت از اوراق بهادار کوتاه مدت به افغانی میباشند که توسط د افغانستان بانک به مشتریان بازار اولیه و بانک‌های تجارتی طور هفته‌وار به شکل لیلام عرضه می گردد. د افغانستان بانک به منظور کنترول عرضهٔ پول از اوراق سرمایوی به عنوان ابزار پولی استفاده می کند. اوراق سرمایوی جهت جذب سیالیت بیش از حد بانک‌های تجارتی مورد استفاده قرار می گیرد.

در حال حاضر، د افغانستان بانک اوراق سرمایوی به موعدهای یک هفته ای، یک ماهه، سه ماهه، شش ماهه و یک ساله را به بازار عرضه میکند.

مجموع مبلغ تصفیه ناشدهٔ اوراق سرمایوی در پایان نیمهٔ اول سال ۲۰۱۷ به ۳۹.۸ میلیارد افغانی میرسد که نسبت به ۳۲.۳ میلیارد افغانی زمان مشابه سال ۲۰۱۶، افزایش ۲۳.۲۲ درصدی را نشان میدهد. افزایش سطح اوراق سرمایوی نشانگر افزایش تقاضای سکتور بانکی به پول افغانی بوده و این روند نشانه ای از کاهش لیلام ارز می باشد که خود باعث افزایش مجموع ذخایر خالص بین المللی در زمان تحت بررسی می‌شود.

سهم تصفیه ناشدهٔ اوراق سرمایوی ۷ روزه در نیمهٔ اول سال ۲۰۱۷ به ۵۵۰ میلیون افغانی ثبت شده که این رقم با زمان مشابه سال ۲۰۱۶ همسان میباشد. سهم تصفیه ناشدهٔ اوراق »


سرمایوی ۲۸ روزه و ۹۱ روزه به ترتیب ۲،۱۰۰ میلیون و ۱۰،۶۹۰ میلیون افغانی ثبت گردیده است.

به همین ترتیب، سهم تصفیه ناشدهٔ اوراق سرمایوی ۱۸۲ روزه و ۳۶۴ روزه به ترتیب ۱۱،۶۸۸ و ۱۴،۷۷۴ میلیون افغانی بوده است. طی شش ماه نخست سال ۲۰۱۷، مجموع تکتانهٔ پرداخت شده در بدل اوراق سرمایوی مبلغ ۴۶۷.۴۶ میلیون افغانی تعیین گردیده است.

گراف‌های ۱ الی ۶ تفکیک مجموع سهم تصفیه ناشدهٔ اوراق سرمایوی با سررسیدهای مختلف را در نیمهٔ اول سال ۲۰۱۷ نشان می‌دهد.


علاوه بر این، در شش ماه نخست سال ۲۰۱۷، اوسط نرخ تکتانهٔ اوراق سرمایوی ۷ روزه ۱.۸ درصد، اوراق ۲۸ روزه ۳.۵۱ درصد، اوراق ۹۱ روزه ۴.۲۶ درصد، اوراق ۱۸۲ روزه ۴.۹۷ درصد و اوراق ۳۶۴ روزه به اندازهٔ ۶.۶۶ درصد ثبت گردیده که در زمان تحت بررسی بطور کُلی با نوسانات اندکی همراه بوده اند.

گراف ۱: اوراق سرمایوی تصفیه ناشده در شش ماه اول سال ۲۰۱۷





منبع: آمریت عملیات بازار، د افغانستان بانک


گراف ۲: تقاضا و مبلغ داده شده برای اوراق سرمایوی ۷ روزه، به میلیون افغانی





گراف ۳: تقاضا و مبلغ داده شده برای اوراق سرمایوی ۲۸ روزه، به میلیون افغانی





گراف ۴: تقاضا و مبلغ داده شده برای اوراق سرمایوی ۹۱ روزه، به میلیون افغانی



گراف ۵: تقاضا و مبلغ داده شده برای اوراق سرمایوی
۱۸۲ روزه، به میلیون افغانی




گراف ۶: تقاضا و مبلغ داده شده برای اوراق سرمایوی
۳۶۴ روزه، به میلیون افغانی




منبع: آمریت عملیات بازار، د افغانستان بانک

## ذخایر اجباری و اضافی

بانک‌های تجارتی مکلف اند که ۸ درصد مجموع سپرده‌های خویش را برای حساب افغانی و ۱۰ درصد مجموع سپرده‌های اسعاری را برای حساب ارزی خویش در د افغانستان بانک منحیث ذخایر اجباری نگهداری نمایند.

د افغانستان بانک از ۲۸ ماه جون سال ۲۰۱۵ بدینسو پرداخت تکتانه در بدل ذخایر الزامی را متوقف ساخته است. از همینرو، هیچگونه تکتانهٔ در مقابل ذخایر اجباری به بانک‌های تجارتی پرداخت نمی‌گردد.

**تسهیلات سپرده گذاری شبانه:** اینگونه تسهیلات به منظور بدست آوردن تکتانه برای بیلانس اضافی و تعیین سقف نرخ اوراق سرمایوی به تمام بانک‌های تجارتی فراهم گردیده و روی ذخایر اجباری وضع نمی‌گردد. نرخ تکتانه از سوی هیئت محترم عامل منظور گردیده و به تاریخ ۹ جون سال ۲۰۱۰ به شکل متحد المال به تمام بانک ها صادر گردیده است. نرخ تکتانه که روی تسهیلات سپرده گذاری شبانه وضع می‌گردد، در حال حاضر ۱ درصد پائین تر از نرخ کسر شدهٔ لیلام اوراق سرمایوی ۲۸ روزه می‌باشد.

اوسط مبلغ تصفیه ناشدهٔ بیلانس‌های تسهیلات سپرده گذاری شبانه در زمان تحت بررسی ۳،۷۸۰ میلیون افغانی ثبت گردیده است. در نیمه اول سال ۲۰۱۷ پرداخت مجموع مبلغ تکتانه در برابر این تسهیلات مبلغ ۱۴.۸۸ میلیون افغانی گزارش شده است.

**تسهیلات قروض شبانه:** اینگونه تسهیلات توسط بانک‌ها در موقع نیازمندی به پول در کوتاه مدت مورد استفاده قرار می‌گیرد. بانک‌ها هنگام کمبود نقدینگی از این سهولت د افغانستان بانک استفاده می نمایند. نرخ تکتانهٔ که ازین بابت بالای بانک‌ها هزینه میگردد ۳.۵ درصد بیشتر از آخرین نرخ لیلام اوراق ۲۸ روزه می‌باشد. مطابق متحد المال ۲۷ فبروری سال ۲۰۰۷، این نوع قرضه گیری صرفاً با اوراق سرمایوی تصفیه ناشده تضمین میگردد.

شایان ذکر است که در زمان تحت بررسی هیچ بانک از تسهیل قروض شبانه استفاده ننموده است.▣

منبع:.بولتن اقتصادی و احصائیوی شش ماه اول سال مالی ۱۳۹۶ د افغانستان بانک

# تاپي د افغانستان د اقتصادي پرمختګ غوره لار

حمیدالله فیضي




افغانستان د پراخو زېرمو په لرلو سره په وچه کې له راګیرو هېوادونو څخه دی، خو د سوداګرۍ راکړې او ورکړې او ترانزیټ په برخه کې له ځانګړي جغرافیایي ځای ځای ګي څخه برخمن دی. په تېرو کلونو کې افغانستان ونشوای کړای چې له خپل جغرافیایي موقعیت څخه ګټه پورته کړي او ډېری هېوادونو نه غوښتل چې افغانستان له دې طلایي فرصت څخه کار واخلي.

د ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني د دولت په جوړېدو سره د افغانستان د ترانزیټي څلور لارې مفکوره را ژوندۍ او په دې برخه کې عملي ګامونه پورته شول چې له دې ټولګې څخه د تاپي پروژې یادونه کولای شو. دا ستره پروژه نه یوازې یوه ستره اقتصادي بریا ده، بلکې د سیمې په کچه د مثبتې سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو همکاریو یو ښه پیل دی او د نورو اقتصادي پروژو، په ځانګړې توګه د ترانزیتي سوداګرۍ د غوړېدلو لپاره یو مثبت ګام ګڼل کېږي.

په افغانستان کې د تاپي نل لیکې د کار له پرانېستل کېدو سره په یو وخت د نوري فایبر، د ۵۰۰ کیلو ولټي برېښنا د لېږد او د رېل پټلۍ د جوړېدو پروژې هم افتتاح شوې. سویلي او منځنۍ آسیا د افغانستان له لارې له څه باندې یوې پېړۍ وروسته سره نښلول کېږي او افغانستان یې د وصل نقطه ده. د تاپي پروژې د بري په صورت کې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ او ترانزیت پر څلور لارې د افغانستان د بدلېدو خوب رښتیا کېدو ته ډېر نږدې کړی دی.

تاپي، له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته د ګازو د نل لیکې غځولو پروژه کې د سیمې څلور مهم هېوادونه ښکېل دي. د تاپي پروژې په پیلېدو سره افغانستان د لومړي ځل لپاره د دې امکان ترلاسه کوي چې د سیمې په کچه له خپل جغرافیایي موقعیت څخه پراخه ګټه پورته کړي.

تاپي د ګازو د لېږد پروژه ده او ترځنګ یې "تاپ" چې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د برېښنا د مزي غځول دي، چې دواړه پروژې افغانستان په یوه سیمه ییز اقتصادي دهلیز بدلوي او د ګڼو اقتصادي کارپېژاندو په اند دا پروژه ښایي په افغانستان کې اقتصادي انقلاب رامنځته کړي.

»

تمه کېږي چې دا پروژه په افغانستان کې په مستقیم ډول شاوخوا دوولس زره کسانو ته د کار زمینه برابره کړي او په غیر مستقیم توګه به له هغې لارې څخه چې دا پروژه تېرېږي د ژوند په ټولو اړخونو اقتصادي، امنیتي او سیاسي برخه کې خپل مثبت اغیز پرې باسي.

د تاپي پروژې لګښت ۱۰ میلیارد ډالره اټکل شوی، چې ډېره برخه یې آسیایي پراختیایي بانک له خوا ورکول کېږي.

که څه هم د تاپي پروژې پلان مخکې مطرح شوی وو او بیا په ۲۰۰۸ زېږدیزکال کې هند د دې پروژې د پلي کېدو لپاره لومړي ګامونه پورته کړل، خو د ملي یووالي دولت په راتلو سره ترون یې د ۲۰۱۵ زېږدیزکال په ډېسمبر کې د څلورو هېوادونو له خوا لاسلیک شو.

افغانستان، هند او پاکستان ته د ترکمنستان د ګازو لېږد نل لیکه یا تاپي ۱،۸۱۴ کیلومتره اوږد والي لري چې ۸۱۶ کیلو متره یې د افغانستان له هرات، فراه، نیمروز، هلمند او کندهار ولایتونو څخه او وروسته د پاکستان له لارې هند ته رسېږي.

اوس یې په افغانستان کې هم عملي چارې پیل شوي او هرات کې هم د چارو د پیلیدو پرانېسته ترسره شوه.

افغانستان ته د دې پروژې د ګټو په لړ کې کلنی حق العبور یې ۴۰۰ میلیونه ډالره ده او د دې ترڅنګ به زرګونه بیکاره ځوانانو ته د کار زمینه برابره شي.

د ګازو دغه نل لیکه په کلني ډول افغانستان، پاکستان او هند ته ۳۳ بیلیون متره مکعبه ګازو د لیږد وړتیا لري او ذکر شوي هېوادونه کولای شي په ټاکل شوې کچه ترې ګاز وپیري چې په لومړنیو لسو کلونو کې د افغانستان برخه ۵۰۰ میلیونه مترمکعب په دویمه لسیزه کې ۱ مېلیارد متره مکعب او په درېیمه لسیزه کې ۱.۵ مېلیارد متر مکعب ګاز دی.

افغانستان به راتلونکو دریو لسیزو کې نږدې درې میلیونه متر مکعب ګاز تر لاسه کوي چې په دې ډول سره هیله کیږي د نورو هېوادونو له احتیاجی خلاص شو.

د یادونې وړ ده چې تاپي یوازې د ګازو د لیږد نل لیکه نه، بلکې په افغانستان کې د یوه نوي اقتصادي دهلیز پرانیستل دي چې دګازو نل لیکه، د برېښنا مزی، رېل کرښه، سړک او نوري فایبر پروژې له ځان سره رانغاړي. د تاپي پروژې په پرانیستې سره نړیوال پانګوال باوري کیږي چې افغانستان کې پانګونه وکړي.

په هغو سیمو کې چې دغه نل لیکه تېرېږي خلکو ته د کار زمینه برابره وي او بې له شکه سوداګري به ورسره غوړېږي، دې سیمو ته به امنیت پراختیا پیدا کوي او د دې پروژې له بریالیتوب وروسته به بهرني پانګوال دلته پانګونې ته هم زړه ښه کړي. نږدې دوه نیمې لسیزې کیږي چې د تاپي پروژه د هېوادوالو په زړونو او فکرونو کې ګرځېدله، تر (۲۵) کلونو وروسته دا خیال او آرمان پر واقعیت بدل شو. افغانستان د انرژۍ له داسې سرچینې څخه برخمن کیږي چې پخوا یې هم ورته اړتیا وه، خو اوس دغه اړتیا څو برابره ډېره شوې ده. دا پروژه د هېواد د اقتصادي رګونو ته قوت ورکوي او له دې پروژې څخه تر لاسه شوې پانګه او انرژي د نورو لویو پروژو پرانیستو ته لاره هواروي.▣

اخیستنې:

1. http://www.taand.com/archives/103981/ پوهاند محمد اسماعیل یون، نیټه د کب حوت ۵ مه
2. //www.pashtovoa.com/ د امریکا غږ راډیو د کب ۵ مه
3. www.nunn.asia/116966/د-تاپي-پروژې- د کب ۵ مه

# د لاجورد دهليز د سيمه ايز او نړيوال جيوپوليټيک په رڼا کې

احمد شعيب رحيم آمر عمومی پروژه های استحکام مالی

د وريښمو نوې لارې (New Silk Road) په اړه د امريکا نوښت هغه وخت يو وار بيا برښنډ شو چې د امريکا د بهرنيو چارو وزيرې مېرمن هېلري کلنټن د ۲۰۱۱ زېږديز کال په جون مياشت کې هند ته د خپل سفر پر مهال په يوه وينا کې د رېل لارې، لويو لارو او د انرژۍ د لېږد له لارې د سيمه ييز پيوستون خبره راپورته کړه او د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان د ګاز نلليکه يا ټاپي يې د بېلګه په توګه ياده کړه. د دغه نوښت موخه په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستان څخه د نړيوالو ځواکونو له وتلو وروسته د سيمه ايزې سوداګرۍ، ترانزيټ او زېربنايي پرژو له لارې د افغانستان وده وګڼل شوه. دا وينا په سيمه کې د خپلو سيالو هېوادونو ايران، روسيې او چين د ګټو مهارولو او د امريکا متحدو ايالتونو د اوږدمهالې ښکېلتيا ښودنه وه. نو دغه شاليد ته په کتو د نومبر په ۱۵مه د ترکمنستان په عشق آباد کې د لاجوردو اقتصادي دهليز د تړون لاسليکېدل په سيمه کې د افغانستان لپاره د امريکا متحدو ايالتونو ستراتيژيک ليد سره اړخ لګوي.

د لاجورد اقتصادي دهليز سوداګريزه او لېږد رالېږد لاره ده چې د افغانستان د فارياب او هرات ولايتونو له آقينې او تورغونډۍ بندرونو څخه پيلېږي د ترکمنستان اړوند ترکمن باشي بندر ته رسېږي، له کسپين بحيرې تېرېږي او د ګورجستان د پلازمينې تبليسي په تېرېدو سره په توره بحيره کې د هغه هېواد پوټي او باټومي بندرونو له لارې د آذربايجان باکو ته رسېږي او له هغه ځايه د ترکيې له لارې اروپا ته مخه کوي. په دغه لاره کې سړک، رېل پټلۍ او سمندري لېږدرالېږد يا ترانسپورټي وسايل شاملېږي. د يادونې وړ ده چې غړو هېوادونو په دغه تړون درې کاله بحث وکړ او پايلې ته ورسېدل.

په دغه پروژه کې د هر غړي هېواد د جيوپوليټيک حالت څېړنه په نړيوال او سيمه ييز سياسي اقتصاد کې د هغوی د مهمو اغېزونو ښودنه کوي. افغانستان د دغه تړون لاسليکېدل تر ډېره بريده د خپلو اوږدمهالو اقتصادي موخو د تر لاسه کولو په لور د يوه مهمه ګام په توګه ونمانځه. په وچه کې راګير هېواد په توګه افغانستان تر ډېره په خپله نړيواله سوداګرۍ کې د نړيوالو کنوېنشنونو او د افغانستان ترانزيټي سوداګريز تړون (ATTA) او افغانستان پاکستان ترانزيټي سوداګريز تړون (APTTA) په څېر دوه اړخيزو تړونونو په پام کې نيولو سره پر پاکستان تکيه پاتې شوی دی. خو دغو قانوني چوکاټونو له افغانستان سره ډېره مرسته نه ده کړې.

اوس د لاجوردو اقتصادي دهليز نه يوازې د يوې بديلې لارې په توګه مطرح دی، بلکې له اروپا سره د سوداګرۍ لپاره د افغانستان تر ټولو لنډه، ارزانه او باوري لاره ويل کېږي. پر ترانزيټ او سوداګرۍ سربېره دا تړون له سيمې سره د افغانستان د پيوستون او د سوېلي آسيا، مرکزي آسيا او منځني ختيځ د بازارونو د تړلو لپاره د يوه مرکز په توګه د افغانستان د راتلونکي تضمين په لور يو ستراتيژيک ګام بلل کېږي.

د لاجورد اقتصادي دهليز بل لوری ترکمنستان دی. دغه هېواد په نړۍ کې د طبيعي ګازو څلورم توليدوونکی هېواد ګڼل کېږي، چې روسيې، چين او ايران ته يې صادروي. خو له هايدروکاربون صنعت څخه د هغه هېواد عايد د پرله پسې ټکانونو له کبله مخ پر ټيټېدو دی. د روسي ګازپروم شرکت د ترکمن ګاز پېرل څکه ودرول چې په ۲۰۱۶ کال په پېل کې يې د نرخ پر سر اختلاف راغی او بل خوا ايران ته هم په ۲۰۱۷ کال د دغو ګاز صادرېدل د پيسو د نه ورکړې له امله د ترکمنستان له خوا ودرول شو. په دې ډول چين د يوازيني هېواد په توګه پاتې شو چې د ترکمنستان ګاز پيري. خو دا آپشن هم ورو ورو ستونزو سره مخ کېږي. چين ته د ترکمن ګاز لېږد له دريو (الف) (ب) او (ج) ليکو څخه د چين لويديځ ته تر رسېدو پورې له ازبکستان او قزاقستان څخه تېرېږي. د دې کچې د ډېرولو لپاره د کال نور دېرش ميلياره مکعبه ګاز هم په پام کې ده چې د ليکې له لارې چې هغه به له ازبکستان، تاجکستان او قرغزستان له لارو تېرېږي چين ته ورسېږي. له بلې خوا د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان د ګاز نل ليکې

»

یا ټاپي پروژه هم په تېره بیا په افغانستان کې د امنیت حالت ته په کتو سره آسانه چاره نده چې پلې شي.

دغه هېواد تر ډېره پر هایدروکاربون صنعت د تکیې له امله له ننګونو سره مخ دی او اوس هڅه کوي چې اقتصاد یې پر بېلابېلو بنسټونو تکیه وي. د دې موخې لپاره یې له ۲۰۱۱ څخه تر ۲۰۳۰ کال پورې د ټولنیز-اقتصادي پرمختګ لپاره د ملي پروګرام (National Program for Socioeconomic Development) لومړیتبونه د یوه ستراتیژیک حرکت په توګه غوره کړي چې له مخې یې غواړي د تورې او کسپین بحیرې د نښلولو په ګډون د لېږد او رالېږد او ټرانزیټ په یوه دهلېز بدل شي او له همدې امله یې د ترانسپورټ پر بنسټونو ګڼ لګښتونه کړي. ځکه نو د لاجورد اقتصادي دهلېز تړون د دغه له ستراتیژیکو لومړیتوبونو سره اړخ لګوي.

په ټوله کسپین بحیره کې د لاجوردو سوداګریزې او ترانسپورتي لارې په سیمه کې د آذربایجان، ګرجستان او ترکیې په څېر د امریکا د ملاتړ وړ ټکو ته رسېږي. آذربایجان په جیوستراتیژیک لحاظ د سوېلي قفقاز په نښلولو کې مهم رول لري. دغه هېواد د پخواني شوروي اتحاد له ماتېدو وروسته خپلواکي اخیستې ده.

د ۲۰۱۶ کال په اګست کې آذربایجان په یوه درې اړخیزه ناسته کې ګډون وکړ چې له ایران او روسیې سره یې د شمال – سوېل ترانسپورټي دهلیز پر سر خبرې وشوې. دغه لاره چې له ځمکې او سمندر تېرېږي موخه یې د ایران، سوېلي قفقاز او روسیې له لارې له اروپا سره د هند نښلول دي.

د لاجوردو اقتصادي دهلېز بل تم ځای ګورجستان دی چې له روسیې، آذربایجان او ترکیې سره ګډه پوله لري او په لودیځ کې له تورې بحیرې او سوېلي قفقاز سره نښتی دی.

ګورجستان ترکیې ته د آذري تېلو او ګازو د لېږد یوه لاره ده. آذربایجان، ګورجستان او ترکیه خپلو منځو کې پر نښلېدو تمرکز کوي. په دغو هڅو کې د سوېلي قفقاز د پایپ لاین ( د ګازو پایپ لاین) باکو-تبیلیسي سیهان د پایپلاین او باکو-تبلیسي – کرس اوسپنې پټلۍ د آذربایجان، ګورجستان او ترکیې لپاره د نوو اقتصادي فرصتونو لاره پرانستې. دغه پرمختګونه د سوېلي قفقاز په سیمه کې د ترکیې پر روسیې د برلاسي کېدو او نفوذ ښودنه کوي. دغه هېواد د باکو-تبلیسي کرس د رېل لارې ته مخکې له مخکې د وربښمو د نوې لارې نوم ورکړی چې دا له هغې خوشبینۍ سرچینه اخلي چې وبه کولای شي شمالي افریقا او په وچه کې ایسار مرکزي آسیا سره ونښلوي.

ترکیه هم غواړي چې تر ډېره د اروپایي ټولنې لپاره د انرژۍ د لېږد مرکز اوسي. په ورته وخت کې روسیه د اروپایي ټولنې د تېلو او ګازو ستر تأمینوونکی هېواد دی. د بېلابېلو هڅو پر مټ او پر روسیه د تکیې د راکمولو لپاره امریکا او اروپا د نابوکو ګاز نل لیکې په څېر نوښتونو ملاتړ کوي چې له کسپین او منځنۍ ختیځ څخه اتریش او مرکزي اروپا ته ګاز لېږدولای شي او ترکیه هم د انرژۍ د لېږد په مرکز بدلولای شي. د نابوکو پایپ لاین کسپین انګېزه کولای شي د روسیې انحصار او د ایران هغه هڅې وننګوي چې غواړي د اروپا د ګازو تأمین د ترانز-کسپین ګاز نل لیکې له لارې وکړي.

دغه نل لیکه نه یوازې له ترکمنستان څخه د ګازو د لېږد موخه لري، بلکې له قزاقستان څخه هم اروپايي ټولنې ته د نیمه سمندري نل لیکې له لارې لېږد په پام کې لري. اوس مهال په کسپین کې د پولو پر سر شخړې او د ایران او روسیې تر منځ د دې پروژې پر سر سیالیو دغه کار څنډولی. دا هم د یادولو وړ ده چې دا نل لیکه به د لاجورد د اقتصادي دهلیز له لارې د آذربایجان او ګورجستان په وسیله ترکیې ته رسېږي.

د پورته یاد شوي جیوپولیټیک وضعیت په پام کې نیولو سره، لاجورد دهلیز د سیمې د یو شمېر هېوادونو له ملي لومړیتوبونو سره اړخ لګوي او له بلې خوا په سیمه کې د امریکا له ستراتیژیکې ښکېلتیا سره هم همغږي لري. دغه اقتصادي دهلیز د غړو هېوادونو اقتصادي او سیاسي اړیکې هم نږدې کولای شي او په اوږدمهال کې د ترانز-کسپین د ګازو نل لیکې په څېر د نوښتونو عملي کېدو ته هم لاره هوارولی شي. په پای کې ویلای شو چې دا د ډېروونکې نښلونې او اقتصادي همکارۍ له لارې سیمه یېزه پراختیا ډاډمنولای شي چې دا په سیمه کې پر ټولیز پرمختګ هم اغېز شیندلای شي.▣

# د افغانستان بانک عملیاتي کړنو ته ځغلنده کتنه

## د افغانستان بانک مشرتابه پلاوي د کارکوونکو د تشویق او ترغیب په موخه د بشري سرچینو آمریت کړنې وستایلې




د ۱۳۹۶ کال د کب ۲۰ مه – د افغانستان بانک، مشرتابه پلاوي د یوې غونډې په ترڅ کې د بشري سرچینو د آمریت له کړنو چې د تقاعد سیستم د نوي کیدو سبب وګرځید، ستاینه وکړه. د افغانستان بانک دویم مرستیال ښاغلي محمد قسیم رحیمي د یوې غونډې په ترڅ کې د افغانستان بانک د بشري سرچینو آمریت کارکوونکو څخه د تقاعد سیستم د بشپړتیا، رونتیا او په نوي سیستم سمبالتیا له امله مننه وکړه او زیاته یې کړه چې اوس تقاعد روڼ، شفاف او پرته له ستونزو سیستم لري چې د بشري سرچینو لوی آمریت د افغانستان بانک د نورو شعباتو دکارمندانو په همکارۍ دا پروسه بشپړه کړې چې د افغانستان بانک د ټولو کارمندانو د تقاعد پیسې په رڼه توګه د دوی شخصي حساب ته لیږدول کیږي او که چیرې څوک تقاعد کیږي په یوه ورځ کې خپل ټول تقاعدي حقوق ترلاسه کولای شي.

په همدې حال کې د افغانستان بانک د بشري سرچینو لوی آمر ښاغلي بشرمل پسرلي هم د دې آمریت د کارکوونکو د فعاله کړنو له امله مننه وکړه او وې ویل چې اوس د افغانستان بانک هر یو کارمند خپل شخصي حساب لري او هره میاشت یې په منظم ډول د تقاعد پیسې ځانګړي حساب ته لیږدول کیږي. ښاغلي بشرمل زیاته کړه په هغه صورت کې چې څوک تقاعد شي یا هم په خپله خوښه وغواړي له دندې سره خپله علاقه وشلوي، پرته له کوم ځنډ څخه په یوه ورځ کې خپل د تقاعد ټول حقوق چې حساب ته یې لیږدول شوي د یوه چک په وسیله ترلاسه کولای شي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک تل د نویو سیستمونو د جوړولو او مُډرن سیستمونو رامنځته کولو لپاره هلې ځلې کوي چې د دې سیستم د فعالیدو موخه هم کارکوونکو لپاره د آسانتیاوو رامنځته کول، پرته له ځنډ څخه د تقاعد ترلاسه کول، له نوې تکنالوژۍ څخه مثبته ګټه اخیستل، د مالي چارو چټکوالی او د افغانستان بانک کړنو په اړه د بشپړو معلوماتو ترلاسه کول دي.■

# امضای تفاهم نامه همکاری های میان د افغانستان بانک و وزارت محترم مالیه



کابل،۱۵ حوت سال ۱۳۹۶

د افغانستان بانک تفاهمنامه دو جانبه را جهت گسترش سکتور بیمه با وزارت مالیه جمهوری اسلامی افغانستان امضا نمود.

هدف امضای این تفاهم نامه که توسط نماینده گان باصلاحیت هر دو نهاد، محترم میر احمد شکیب آمر عمومی توسعه خدمات مالی و محترم محمد موسی کاموی رئیس عمومی امور بیمه های وزارت محترم مالیه به امضا رسید، زمینه سازی برای همکاری های سکتوری در بخش بیمه می باشد و توقع می رود تا با تطبیق آن روند انکشاف سکتور بیمه و نهادینه کردن فرهنگ و گسترش استفاده از خدمات بیمه در کشور تحقق یابد.

به اساس این توافق نامه، د افغانستان بانک وعده سپرده است تا در بخش اصول کُلی نظارتی، خدمات مالی اسلامی، مرور قوانین و مقررات مربوط به بیمه و چند بخش دیگر با وزارت مالیه همکاری تخنیکی نماید.▣

# د افغانستان بانک حقوقي مشاور وپیژندل شو

